آصف بهاند
۲۰۱۶/۰۴/۲۶

# انځورونه، ستا یادونه

چې را پېښ شي ستا یادونه

ټوله مړاوي بیا را تاند شي

را په غوږ چې دې کوم غږ شي

آزانګې په ګړنګونه

سپېرې دښتې سره ګلان شي

شاړې مځکې بلاربې، بلاربې

او موسکې شي تور کمرونه

پاس ولاړ شنه آسمانونه

لاندې مځکې سره ګلونه

چې را پېښ شي ستا یادونه

رنګین خیال او انځورونه

شنه سپرلي او اتڼونه

بنې وږمې، شنه خادرونه

ټولې ګوټې مې قلم شي

نوي نوي کلامونه

او پر ژبه مې جاري شي

انځورونه ستا یادونه

۰۳ ـ ۰۷ ـ ۲۰۰۹

هیدرسلیف

ډانمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ